ارادہ DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۲۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

په ایران کې درې زره افغانان پر اعدام محکوم شوي

د ولسي جرګې لومړي منشي خبر ورکړ، چې په ایران کې څه باندې ۵ زره افغانان بندیان دي، چې له دې ډلې ۳زره یې پر اعدام محکوم شوي دي

لومړي منشي عبدالستار خواصي، چې یوه نیمه میاشت وړاندې د ایران په رسمي بلنه د ولسي جرګې د ۴ کسیز پلاوي په سر کې هغه هېواد ته تللی و، وویل دغه ارقام ورته ایراني چارواکو ورکړي دي.

دغه پلاوی د ایران د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د کمېسیون په غونډه کې د ګډون په موخه، غوښتل شوی و.

خواصي د کب پر ۲۲مه وویل، چې د ایراني چارواکو د معلوماتو له مخې ۳مخ

لسم کال - دویمه دوره، ۷۲۹ مه ګڼه، پر له پسې ۱۷۹۶ ګڼه د ۱۳۸۸ ل ـ د کب ۲۳ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الاول ۲۷ مه ۲۰۱۰ د مارچ ۱٤ مه

منشی عمومی ناتو:

وضعیت مجروحان جنگی افغانستان وخیم است

منشی عمومی ناتو وضعیت مجروحان جنگ افغانستان را وخیم و نیازمند کمک های طبی توصیف کرد.

آندره فوگ راسموسن، منشی عمومی ناتو با گلایه از سازمان داکتران بدون مرز، وضع مجروحان جنگ افغانستان را وخیم اعلام کرد و خواهان همکاری سازمان های خیریه به ویژه داکتران بدون مرز برای رسیده گی به حال مجروحان این جنگ شد.

راسموسن با انتشار این اظهارات در بیانیهٔ رسمی یی به شدت از نوع عملکرد داکتران بدون مرز اعتراض کرد و درمان ص۳

هند ۴۰ کماندو به افغانستان می فرستد

منابع رسمی دیروز گفتند که هند تصمیم گرفته، برای حفاظت از اتباع خود، ۴۰ کماندوی دیگر به افغانستان بفرستد.

بنا به گفتهٔ این منابع، این ۴۰ کماندوی پولیس سرحدی هند - تبت در مراکز تجمع هندی‌ها و مهمانخانه‌هایی که اغلب مورد استفادهٔ هندی‌هاست، مستقر می‌شوند.

این منابع افزودند: یک تیم از شبکه های امنیت مرکزی هند همچنین به زودی به کابل خواهد رسید، تا اوضاع امنیتی را بررسی کند.

در همین حال، طبق گزارش‌های رسانه‌یی، هند در حال بازنگری استراتیژی حضور در افغانستان بر پایهٔ ارزیابی ارایه شده از سوی شیوشانکار منون، مشاور امنیت ملی هند که اخیرا به افغانستان سفر کرده، است.

براساس گزارش خبرگزاری شینهوا، هند هم اکنون پس از حملات اخیر در کابل، ماموریت طبی خود را در کابل به طور موقت تعطیل کرده است.



DW

آگهی کاریابی

دویچه وله در جستجوی نویسنده گان

رادیو دویچه وله - صدای آلمان- برای تولید درامه های رادیویی، در جست وجوی نویسندگان با تجربه وحرفه ای است. این رادیو درامه ها دارای ۲۰۰ بخش - ۱۰۰ بخش به زبان دری و ۱۰۰ بخش به زبان پشتو- در چارچوب پروژه ی " Learning by ear " یا "برنامه بشنو وبیاموز" در افغانستان و آلمان تولید می شوند. موضوعات رادیو درامه ها قرار است بخش های گوناگون زندگی مردم افغانستان را دربرگیرند، که به توسط دویچه وله تعیین می شوند.

هرموضوع دارای ۱۰ قسمت بوده وهرقسمت باید حدود ۱۵۰۰ کلمه باشد. جزئیات این رادیو درامه ها، مثلاً چگونگی ساختار آن، ازجانب دویچه وله در سمینار های آموزشی به نویسندگان منتخب ارایه می شوند. شرکت در این دوره های آموزشی الزامی و بخشی از پروژه است. بعد از دوره ی آموزشی چند روزه در کابل در ماه می سال روان میلادی، نویسندگان در آغاز ماه بعدی، یعنی به تاریخ ۰۱،۰۶،۲۰۱۰ به کارشان شروع می کنند.

هرنویسنده درباره یک موضوع مشخص که ازسوی دویچه وله تعیین خواهد شد، ده نمایشنامه رادیویی می نویسد. نویسنده برای تهیه یک بخش یک هفته وقت دارد. در پایان هر هفته، بخش تمام شده به وسیله ایمیل به مسوول برنامه که قبلاً معرفی شده است، فرستاده می شود. مسوولان هربخش در صورت لزوم از نویسندگان تقاضا می کنند تا روی تغییرات لازم به سرعت کار کنند. تمام ده بخش باید تا نیمه ی ماه اگست سال ۲۰۱۰ به ویراستار ها پیشکش شوند. نویسندگان مکلف اند طبق برنامه ی ازپیش تعیین شده هفته وار مطالب شان را تحویل دهند. درغیرآن قرارداد فسخ خواهد شد.

آنچه از نویسندگان خواسته می شود:

۱.قبل از همه داشتن تجربه در قصه نویسی بویژه دربخش درامه های رادیویی وداستان های کوتاه هیجان انگیز درقالب دیالوگ های زنده.

۲.توانایی دربخش ارایه ی موضوعات جالب علمی در قالب دیالوگ های زنده و به زبان گفتاری طبیعی.

۳.مهارت وتوانایی حفظ جذابیت داستان ها تا قسمت پایانی.

۴.توانایی استفاده ازشیوه های تحقیق برای پربار ساختن نمایشنامه ها و محتوای برنامه ها.

۵.توانایی کاربرد یک زبان زنده و قابل فهم که شنوندگان رادیو و بویژه نسل جوان بتوانند آن را بدون زحمت درک کنند.

امتیازات وخدماتی که دویچه وله ارایه می دهد:

۱.امکانات سهم گیری در یک پروژه ی جالب و سازنده با چانس ها آموزشی بیشتر.

۲. پرداخت مبلغ ۲۲۰۰ یورو، بعد از آن که وظیفه محوله براساس معیار های دویچه وله در چارچوب زمان تعیین شده انجام یافته باشد.

۳ . **پرداخت هزینه ارتباطات تلفنی واینترنتی تا یک مبلغ معین**: هزینه ارتباطاتی که در صورت لزوم نویسندگان با ویراستار ها و مسوولان پروژه تماس می گیرند.

۴.**پرداخت هزینه ی تحقیق تا یک مبلغ معین**. به طور مثال: در صورتی که نویسنده مجبور باشد کتابی را بخرد که به آن برای کارش نیاز دارد. این مصارف با تا یک سقف مشخص از طرف دویچه وله پرداخت می شود.

۵.یک دوره ی آموزشی چندین روزه در کابل: مصارف رهایشی و مصارف ممکن هوتل برای شرکت کنندگان کورس که خارج از شهر کابل زندگی می کنند، از طرف دویچه وله پرداخت می شود.

لطفاً تقاضانامه، زندگینامه و نمونه های کاری خویش را تا تاریخ ۲۵،۰۳ به آدرس ایمیل که در پایین ذکر شده است، بفرستید. نویسندگان پس از بررسی نمونه های کاری شان توسط هیئت داوران، برگزیده شده به ایشان تا پایان ماه مارچ اطلاع داده خواهد شد.

از علاقمندی شما سپاسگزاریم.

راه های تماس باما:

afghanistan@dw-world.de

lbe.afg@dw-world.de

Tel.: ۰۰۴۹ ۲۲۸ ۴۲۹ ۴۸۴۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

وضعیت افغان های مهاجر زندانی، جدی است

در طول سه دههٔ گذشته، شمار زیادی از افغان ها به کشورهای همسایه و بیگانه آواره شدند که عده یی شان پیش از اینکه به مسیر مقصود برسند، یا در دریا غرق شدند و یا هم توسط نیروهای امنیتی کشورهای پناهنده دستگیر، زندانی و به این ترتیب، عدهٔ زیادی از افغان ها بدون اینکه خانواده های شان از سرنوشت شان اطلاعی داشته باشند، با سرنوشت اندوهباری مبتلا گشتند.

هم اکنون در زندان های کشورهای همسایه مانند ایران، پاکستان و کشورهای آسیای میانه به صدها تن از مهاجران افغان زندانی می باشند؛ افزون براین، هزارها تن دیگر، در زندان های کشورهای حاشیهٔ خلیج و زندان های روسیه، اوکراین و برخی کشورهای اروپای شرق با زنده گی مرگباری دست و پنجه نرم می نمایند. این مهاجران به اتهام جرایم مختلف از جمله قاچاق مواد مخدر، ورود بدون داشتن مجوز قانونی به این کشورها وغیره دستگیر و زندانی شده اند. در این اواخر، به خاطر استرداد زندانیان افغان به حکومت افغانستان، اداره های مربوط دولت افغانستان با بعضی از کشورها در تماس شده و در این زمینه به توافقاتی نیز دست یافته اند. دو هفته پیش بین مقام های مسوول کشور تاجکستان و افغانستان توافقی به عمل آمد که بر پایهٔ آن، ۲۵۲ تن از زندانیان افغان به کشور شان انتقال یافتند؛ دولت افغانستان بعد از تکمیل مراحل این توافق، در تلاش شد، تا با کشور ایران که بزرگترین زندانی برای افغان های مهاجر پنداشته می شود نیز، به توافق مشابهی دست یابد. هیأت موظف افغانی بعد از یک سلسله گفتگوها و رایزنی ها با مقام های مسوول ایرانی، اینک توانستند، وضعیت و چگونگی دوسیه های مهاجران زندانی افغان را در ایران مورد بررسی قرار داده و شمار دقیق آنها را معلوم نماید. به اساس، گزارش این هیأت، شمار افغان های زندانی در زندان های ایران به ۶۰۰۰ تن می رسد که ۳۰۰ تن آنان به اعدام و متباقی به انواع گوناگون حبس محکوم می باشند؛ اینکه محاکمهٔ این افراد، در ایران چگونه و به اساس کدام پرنسیب صورت گرفته است؛ معلوم نیست. اما از آنجایی که دولت ایران یکی از ناقضان حقوق بشر به سطح جهانی شمرده می شود، به نظر می رسد که برخورد قوهٔ قضاییهٔ ایران با دوسیه های این زندانیان، شاید به مراتب بدتر از اتباع ایرانی بوده باشد، هم اکنون دولت حاکم برایران، حتا بر اتباع خود هم چندان رحمی نداشته و سالانه به صدها تن از شهروندان ایرانی را زیر نام های مختلف به زندان می افگند و با برچسب زدن عنوانی به اعدام محکوم و نابود می سازد؛ بر پایهٔ معلومات و آمار ارایه شده از سوی سازمان های حقوق بشری در این راستا، برخورد قوهٔ قضاییهٔ ایران با مخالفان و دیگر زندانیان کاملا غیرعادلانه و دور از موازین حقوق بشری می باشد؛ چنانکه اکثر متهمان بدون اینکه وکیل مدافعی داشته باشند و یا اینکه به درخواست آنان کمترین توجهی صورت بگیرد، به مجازات سنگین محکوم می شوند. بادرنظرداشت این مسأله، چنین به نظر می رسد که وضعیت زندانیان افغان و فرایند بررسی دوسیه های آنان در ایران در حالت بسیار بدتری از سایر کشورها باشد. بنابراین، دولت افغانستان، به حیث یک دولت مسوول که خود را دولت انتخابی و مشروع افغان ها می داند، با جدیت و پیگیری همه جانبه در این راستا باید به مشکل این مهاجران مظلوم که خانواده های شان سال ها از سرنوشت شان اطلاعی در دست ندارند، رسیده گی نموده و با استفاده از مجرای دیپلوماسی کارا در این عرصه گام بگذارد.

وقتی امنیت را با دالر می‌خرند

سارا معصومی

افغانستان همچنان روزهای پرتنش را تجربه می‌کند. نیروهای ناتو و سربازان امریکایی عزم خود را برای برقراری آرامش در افغانستان جزم کرده‌اند،از زمان حضور دوباره حامد کرزی بر مسند ریاست جمهوری افغانستان، متحدان جامعهٔ جهانی کرزی از او می‌خواهند که به پاس‌داشت کمک به او در این مسیر، با فساد اداری مبارزه کند. درخواستی که به هیچ‌وجه تاکنون محقق نشده است. روزنامهٔ بریتانیایی ایندیپندنت در تازه ترین گزارش خود در این مورد می‌نویسد: برخی مقام های افغانستان، پولی را که به عنوان کمک مالی در اختیار این کشور قرار می گیرد، به جیب خود می زنند. پولی که باید در جهت کمک به غیرنظامیان و دهقانان فقیر صرف شود، به دست طالبان، قاچاقچیان مواد مخدر و سودجویان می رسد.

از زمانی که حامد کرزی در انتخاباتی آمیخته به حاشیه‌های فراوان، عبدالله عبدالله را کنار زد قدرت را برای بار دوم در دست گرفت، همگان از کرزی خواستند که به این روند طولانی فساد اداری در این کشور پایان دهد. در حال حاضر، هم تحقیقات گسترده‌یی در مورد قراردادهایی که توسط نیروهای ایتلاف در افغانستان پیشنهاد می شود و صدها میلیون پوند ارزش دارد، آغاز شده است.

دستور تحقیق در مورد قراردادهای بازسازی و لوژستیکی نیروی امنیتی بین المللی (ایساف) توسط جنرال نیک کارتر، قوماندان نیروهای ایساف در جنوب افغانستان، صادر شده است.

همزمان جنرال استنلی مک کریستال علیه آنهایی که درگیر فساد مالی هستند و پول ها را به جیب می زنند، اعلام جنگ کرد. یک سوم مصارف تدارکات نیروهای مسلح در افغانستان صرف مبالغی می شود که برای حفاظت از نیروها، رشوه خواری و عبور محفوظ آنها پرداخت می شود.

کاروان ها هر باری که از کراچی خارج می شوند، تا به کمپ باسچن بروند، تا ۱۵۰۰ دالر پول به عنوان مالیات به طالبان میدهند، تا به آنها حمله نکنند.

به گفتهٔ منابع دولتی افغانستان، هر ساله حد اکثر ۶۰۰ میلیون دالر که باید صرف طرح های بازسازی شود، برای تامین امنیت صرف می شود. کنگرهٔ امریکا مشغول تحقیق دربارهٔ برخی ادعاها مبنی بر پرداخت پول هنگفت توسط شرکت های امنیتی خصوصی به طالبان و جنگ طلبان برای ایجاد امنیت در مسیر های عبور نیروهای ایتلافی است.

رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا، قرار است، در مورد ادعاهای موجود مبنی بر عملکرد نادرست شرکت امنیتی بلک واتر در افغانستان تحقیق کند. این شرکت متهم به اختلاس تسلیحات دولت و استخدام افرادی با سابقهٔ شرارت است.

در واقع، تنها یک چهارم پولی که به افغانستان تزریق می شود، در این کشور باقی می ماند. یک سوم پولی که به عنوان کمک در اختیار افغانستان قرار می گیرد، صرف دادن رشوه و باج برای محافظت از نیروها می شود.

دیورند معمایی لاینحل و فاجعه آفرین

خالد وفایی

به خاطر دانستن امروز باید دیروز را بشناسیم ور نه هر گز قادر نخواهیم بود. آنگونه که لازم است، آینده ها را بشناسیم.

تاریخ سیاسی ما علی رغم سهامت ها، فداکاری ها و خون ریزی های بیدریغ در بعضی حالات بسیار خسته و درمانده است، ولی ناگزیرم برای رهیافت ریشه های معضل، همواره از تاریخ استمداد جوییم زیرا؛ هیچ چیز بهتر از تاریخ بر فلسفه های نادرست تاریخ، خط بطلان نمی کشد.



وقتی صفحات تاریخ را ورق بزنیم، خواهیم دید مسألهٔ مرزی میان افغانستان و پاکستان طی شصت سال تنش زا بوده است؛ مرزی که به قول یکی از نویسنده گان شهیر کشور، به زخم ناسور ملت افغانستان می ماند.

مراد از مرز تنش زا و مشکل آفرین به درستی همان مرزی است که تا هنوز به عنوان یک معما باقی است و این معما بنام دیورند معروف گشتته است.

برای بار نخست، امیر عبدالرحمن خان، به تاریخ ۱۲ نومبر ۱۸۹۳ میلادی با سر مرتیمر دیورند رییس هیأت انگلیسی معاهده را امضاء نمود که بعدها بنام معاهدهٔ دیورند معروف گشت و این معاهده در برگیرندهٔ مناطق چترال، وزیری، سوات، بارنوی، چمن داور و مناطق شامل آن می شود.

پاکستان از آغاز تولدش در منطقه که به اساس استراتیژی بریتانیا به وجود آمد، با همسایه گان خویش از جمله هند و افغانستان، از در منازعه پیش آمده است.

اگر به بحران سه دههٔ اخیر در افغانستان نگاه کنیم، خواهیم دریافت که بعد از تهاجم اتحاد شوروی اسبق به کشور ما و موقعیت پاکستان در همسایگی این کشور و توجه جامعهٔ بین المللی به مقاومت مردمی در افغانستان، علیه ارتش شوروی زمینه را طوری مساعد کرد که پاکستان کشور حایل، میزبان و از همه مهمتر در محراق توجه کشورهای غربی در عرصهٔ سازماندهی مقاومت مجاهدین در برابر شوروی قرار گیرد. بعد از فروپاشی اتحاد شوروی و پایان جنگ سرد، پاکستان که از زمانه های طولانی

در صدد همچو یک موقعیت ص۳

افغانستان او پاکستان په خپل منځ کې راکړې ورکړې ۵ میلیارد ډالرو ته رسوي

افغانستان او پاکستان پربکړه کړې، چې په خپل منځ کې د دوه اړخیزو راکړو ورکړو اندازه تر ۲۰۱۵ کال پورې پنځو میلیارد ډالرو ته ورسوي په دې هکله لومړنی موافقه پاکستان ته د ولسمشر کرزي د دوه ورځني سفر په ترڅ کې شوې ده. د افغانستان او پاکستان د باندنیو چارو وزیران به په نژدې راتلونکي کې د دوه اړخیزو سوداګریزو راکړو ورکړو د زیاتولو د پلان مسوده چمتو او لاسلیک کړي په دې سند کې به خانګړې تینګار د دواړو هېوادونو د سرکونو. هوایي اړیکو او دغه راز د انرژۍ په برخو کې وي. د دواړو هېوادونو ولسمشرانو په خاص ډول مخکې لامربوطه ادارو ته لارښوونه کړې، چې د پېښور او جلال اباد ترمنځ څومره چې ژر کېدای شي، د موټرو یا لویې لارې جوړول پیل کړي. دوی ته همداراز ویل شوي چې د دواړو ښارونو (پېښور- جلال اباد) ترمنځ د اورګاډي د پټلۍ د جوړېدو مطالعه (فیسبیلټي سټډي) پیل کړي. دواړو خواوو همداراز موافقه کړې، چې د پاکستان په بلوچستان کې په دوه زرو افغان محصلانو ته سکالرشیپونه ورکول کېږي.

د تاند وېبپاڼې د رپوټ له مخې، افغانستان او پاکستان همداراز موافقه کړې چې د افغانستان او پاکستان د خوراکي موادو ګډ بانک جوړ کړي. چې د کرهڼې په برخه کې به په ګډو پروژو کې پانګونه کوي. کارپوهان وایي چې ممکن اقتصادي انګېزې سبب شي، چې پاکستاني چارواکي د افغانستان له ورانولو لاس واخلي او په افغانستان کې د سولې او ثبات ملاتړ وکړي.

دیورند معمایی لاینحل ...

استراتیژیک در ارتباط به افغانستان به سر می برد، به ساده گی توانست، عمق استراتیژیک خویش را که همانا نفوذ آن در افغانستان می باشد، با استفاده از افراد ماجراجوی وابسته به خودش افغانستان را تحت پوشش، مورد تهاجم قرار دهد و بعد با ایجاد مهره های جدید دیگر افغانستان را مورد تجاوز صریح قرار داده و به لانهٔ تروریزم بین المللی مبدل نماید که اثرات منفی آن نه تنها در افغانستان باقیمانده، بلکه عوامل ناشی از آن، دامنگیر منطقه و جهان گردید. چنانکه حادثهٔ ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ و فروپاشی برج های مرکز تجارت جهانی در شهر نیویارک امریکا گواه بر این مدعاست.

اگر از تفصیل این موضوع بگذریم و بر گردیم بر راهکارهای سیاسی پاکستان در طی پنج سال اخیر در امر مبارزه با تروریزم بین المللی که شامل توافقات سه جانبه می باشد، خواهیم در یافت که زمامداران نظامی اسلام آباد با برنامه ریزی سیاست های پیچیده، گاهی فراز و گاهی نشیب، اکنون نیز در صدد هستند که نیروهای جامعهٔ جهانی را در افغانستان در آن نقطه قرار دهند یا به نظرات پاکستان قانع شوند و یا هم شکست خورده از این کشور بیرون گردند. چنانکه گرفتاری سران طالبانی که توسط سازمان جاسوسی آن کشور به راه انداخته شده، از یکطرف به منظور امتیازگیری مشوق های کلان اقتصادی و از جانب دیگر، به هدف در اولویت قراردادن خواسته های اساسی و استراتیژیک پاکستا ن در منطقه توسط جامعهٔ جهانی، راه اندازی و دنبال می گردد.

واین روند بازی سیاسی و استفادهٔ ابزاری از طالبان، مانور جدید آن کشور را در قبال قضایای موجود بیشتر از پیش نمایان می سازد و اکنون که جامعهٔ جهانی از عدم صداقت پاکستان در عرصهٔ مبارزه با تروریزم آگاهی دارد، بار دیگر آن کشور خواسته است که با این طرح، جامعهٔ جهانی را اغفال نموده و درعقب این توطیه و ترفند، هراس افگنان را بدون کدام مانع تقویت نیزمی نماید.

این در حالی است که ادعای ارضی افغانستان و پاکستان در مورد خط دیورند تا هنوز از لحاظ حقوقی حل نگردیده است.

پاکستان با توجه به نکات فوق در صدد آن است که با استفاده از وضعیت پیشامده در افغانستان، حد اکثر استفاده را نموده و تحت نام مبارزه با هراس افگنی و به اصطلاح با یک تیر دو نشان را شکار نماید.

اما به نظر نویسندهٔ این مضمون، همه مردم افغانستان اعم از زن و مرد، باسواد و بی سواد، روشنفکر و تاریک فکر، مجاهد و غیرمجاهد، تندرو و کندرو ریشهٔ این همه معضلات را از جانب پاکستان که تا اکنون جاری است در بالا گرفتن مسألهٔ دیورند می دانند.

دیورند غدهٔ التهابی است که سه صوبهٔ پاکستان را در بر می گیرد و آن کشور به هیچ وجهه نمی خواهد قبول نماید که معضلهٔ تروریزم را که خود به وجود آورده، غرض پیشبرد سیاست های توسعه طلبانهٔ خویش به این ساده گی از دست دهد، بلکه همواره در تلاش آن است که مسأله دیورند را با ایجاد افسانه های مختلف، به نفع خویش به پایان رساند

دولت افغانستان مکلفیت دارد که با راهکارهای مناسب سیاسی با این مسأله برخورد نموده و اذهان عامه را روشن سازد

خلاصه اینکه:

۱ـ دولت افغانستان باید با ایجاد یک دستگاه دیپلوماسی فعال و گوش دادن به نظریات تمامی کسانی که عمق استراتیژی پاکستان را می دانند و می توانند، برای تحقق آزادی کامل در افغانستان حصه بگیرند، گردآوری نموده وبه نظریات شان توجه نماید.

۲ـ پاکستان تا کنون برای همهٔ مردم ما زهر را به جای قند فروخته است، بناً لازم است که دکترین مسایل سیاست خارجی ما در قبال پاکستان، سلیقه یی و مقطعه یی برخورد ننموده، بلکه به اساس دیپلوماسی فعال دفاعی استوار گردد.

۳ـ دولت موجود برای شکل دهی و ایجاد یک نیروی منسجم ملی تمام سعی را به خرچ دهد، تا دیوار بی اعتمادی را که میان قشرها و لایه های مختلف جامعه از لحاظ اتنیکی به وجود آمده است، از میان بردارد، تا توانسته باشد، از یکطرف با مشکلات تروریزم و طالبان که حامیان بیرونی دارند، رسیده گی نماید و از جانب دیگر، مسألهٔ خط دیورند را با استفاده از حضور و اهمیت جامعهٔ بین المللی در کشور ما روشن ساخته و نیات پاکستان که از تروریزم و هراس افگنی حمایت می نماید، به نقطه پایان برساند.

په ایران کې درې زره افغانان پر اعدام ...

په دغه هېواد کې ۵۶۳۰ تنه د ښلا ښلو جرمونو په تور زنداني شوي، چې ۳زره يې په اعدام او نور يې په اوږد او لنډمهاله بند محکوم شوي دي.

د ولسي جرګې پروني غونډې ته چې په همدې اړه وه، د عدلیې وزیر حبیب الله غالب او د بهرنیو چارو وزارت مرستیال عبدالکبیر فراهي غوښتل شوي وو.

غالب وویل، چې د افغانستان او ایران ترمنځ د زندانیانو د تبادلې او انتقال ټرون شته، خو د نړیوالو معیارونو له مخې، هېڅ یو هېواد دې ته نه حاضرېږي، چې پر اعدام محکوم بندي بل هېواد ته ورکړي.

غالب، د اعدامیانو په شمېره هم شک وکړ او زیاته يې کړه: «زه فکر نه کوم چې په ایران کې دې په دغه لوړه کچه افغانان په اعدام محکوم شوي وي، ځکه ایران هره ورځ د اعدام پروسه مخ ته وړي، یانې دومره ډېر په اعدام محکوم کسان نه ساتي.»غالب وایي چې په ایران کې د افغان زندانیانو شمېره ۴۷۲۵ تنه ده او له دې شمېرې څخه دوی چې ورسره خبرې کړي، ۱۰ په سلو کې هم دې ته نه حاضرېږي، چې هېواد ته راشي، ځکه د ډېرو کورنۍ هملته دي.

غالب وایي، سره له دې چې دوی د زندانیانو ساتلو لپاره سم او مناسب ځای په واک کې نه لري، مالي امکانات يې هم کم دي.

د نوموړي په وینا، هغه پیسې چې په ایران کې د افغان بندیانو د خوړلو او څښاک لپاره مصرفېږي، په هغه کچه دوی نه شي مصرفولای

نوموړي زیاته کړه، چې په ایران کې د ورځې پر یوه زنداني ۸ او په افغانستان کې ۱.۵ ډالره لګول کېږي او هلته ورته د لاسي صنایعو د زده کړې زمینه هم برابره ده

د ولسي جرګې [illegible] د بهرنیو [illegible] کوندې او سیمه ییزو هېوادونو [illegible] ۵۹۳ [illegible] هېواد ته انتقال شوي دي

[illegible] افغانستان ترمنځ د [illegible] انتقال په برخه کې چې کومه موافقتنامه لاسلیک شوې، د هېواد ملي شورا تصویب کړي. خو تراوسه يې د ایران پارلمان په اړه کومه پرېکړه نه ده کړې.

د نوموړي د معلوماتو له مخې، افغان زندانیان په ایران کې په غلا، د نشه یي توکو په قاچاق، سړي تښتونه، قتل او نورو جرمونو تورن شوي دي.

خو هغه په ایران کې پر اعدام د محکومو کسانو په اړه هېڅ ونه ویل.

یاد شوي دواړه حکومتي چارواکي د ولسي جرګې د یو شمېر وکیلانو له پوښتنو سره هم مخ شول.

په ولسي جرګه کې د بدخشان استازي مولوي عبدالعزیز وویل، دا چې په هېواد کې د زندانیانو د ساتلو لپاره سم ځای نه شته، نو په اړه يې د عدلیې وزارت څه کړي او که نه؟

د عدلیې وزیر وویل، چې دوی هڅه کوي، د څرخي پله په زندان کې له بهرنیو هېوادونو ځخه د انتقال کېدونکو زندانیانو لپاره د اوسېدو او لاسي صنایعو د زده کړې زمینه برابره کړي.

په ولسي جرګه کې د کوچیانو استازي عالم کوچي له یادو چارواکو غوښتنه وکړه، چې له ایران سره خبرې وکړي، څو د افغان زندانیانو په سزا کې کموالی راولي.

د عدلیې وزیر وویل، چې دوی خپلې وروستۍ هڅې کوي، چې د ایران په ګډون په نورو هېوادونو کې هم د افغان زندانیانو په سزا کې تخفیف راشي.

په ولسي جرګه کې د دایکندي استازي ډاکټر علي ستیغ وویل، چې په ایران کې د افغان بندیانو د حقونو د دفاع په خاطر باید هغوی ته د مدافع وکیلانو زمینه برابره شي.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وویل، چې په تهران کې د کابل په سفارت کې د افغان زندانیانو د مدافع وکیلانو یو کمېسیون د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري په مرسته جوړ شوی دی.

د پڑواک د رپوټ له مخې، تر اوږدو بحثونو وروسته ولسي جرګې یادو چارواکو، ستري محکمې، لویې څارنوالۍ او کورنیو چارو وزارت ته دنده ورکړه، چې د یوې اونۍ په اوږدو کې دې په ایران کې د افغان زندانیانو د ستونزو د حل په برخه کې یو میکانیزم جوړ او د راتلونکې شنبې پر ورځ دې ولسي جرګې ته وړاندې کړي.

همدارنګه ولسي جرګې له عدلیې وزیر سره ژمنه وکړه، چې د راتلونکي کال په بودیجه کې دې په نړیوالو معیارونو برابر زندان د جوړېدو غوښتنه وکړي او دوی به يې بودیجه تصویب کړي.

وضعیت مجروحان جنگی افغانستان...

مجروحان جنگ افغانستان را محدود به امکانات اندک ناتو و شهروندان ساکن مناطق درگیر جنگ، توصیف کرد.

منشی عمومی ناتو همچنین در این بیانیه خاطر نشان کرده است: تلفات و پیامدهای ناشی از جنگ افغانستان همکاری متقابل ناتو، سازمان های خبر به و داکتران بدون مرز را می طلبد و در این همکاری، نباید اهداف و غرض های سیاسی و نظامی سد بزرگی علیه نجات جان مجروحان حاصل از این جنگ بسازد.

به گزارش خبرگزاری فرانسه، **داکتران بدون مرز در سال ۲۰۰۹ همزمان با اوج گیری نزاع و درگیری در افغانستان وارد خاک این کشور شدند. تا کمک های طبی خود را شامل حال مردم درگیر در دام جنگ افغانستان کنند.**

در همین راستا، داکتران بدون مرز با دو طرف درگیر جنگ مذاکره و توافق کردند، تا پایگاه های خود را به دور از مناطق درگیری از جمله مناطق جنوب مستقر کنند.

اما با وجود همهٔ این تمهیدات، عدم امنیت جانی منجر به غیبت یا کم کاری اعضای این سازمان در انجام وظایف شان شده و عملاً مراقبت های صحی از سوی سازمان داکتران بدون مرز در افغانستان، تعطیل شده است.

سړکال به ټول کورنۍ عواید ۱۳۰۰ میلیونه ډالره وي

د مالیې وزیر په ډاګه کړه، چې سړکال به د هېواد کورنۍ عواید له تېر کال څخه ۵۰۰ میلیونه ډالره زیات او ټول سرپنی عاید یو میلیارد او درې سوه میلیونه ډالرو ته رسېږي.

د مالیې وزیر حضرت عمر زاخېلوال د کب پر ۲۲مه، دغه ټکی د جلال اباد ښار په کرزي تالار کې د ګمرک د چارواکو او ملي سوداګرو ترمنځ د نظریاتو د شریکولو او فساد د مخنیوي په اړه، په جوړ شوي کنفرانس کې په ډاګه کړ.

نومورې وویل، چې ځینې دولتي کارمندان له خپل موقف څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

هغه زیاته کړه، چې د ننګرهار ګمرک د هېواد په کچه د عوایدو په راټولولو کې لومړی ځای لري.

د ده په وینا، تېر کال د ټول هېواد عواید ۸۰۰ میلیونه ډالره و، چې سړکل د دغه کچه ۱۳۰۰ میلیونه ډالرو ته لوړه شوې ده.

زاخېلوال، په دغو ۵۰۰ میلیونه زیاتو شویو ډالرو کې ۲۰۰ میلیونه ډالره د ننګرهار ګمرک راټول شوي عواید وبلل.

د مالیې وزیر ډاډ ورکړ، چې په راتلونکو دوو یا درېیو کلونو کې به د هېواد عادي بودیجه له کورنیو وسایلو او عوایدو څخه برابره شي.

نومورې زیاته کړه، چې تېر کال د عادي بودیجې په سلو کې پنځوس سلنه د بهرنیو مرسته وه او دغه کچه سړکال په سلو کې دېرشو ته راټیټه شوې ده.

د مالیې وزیر، په ګمرکي چارو کې د سوداګرو په ملاتړ د قاچاق لپاره د مخنیوي ډاډ ورکړ.

نومورې د ختیزې سیمې له سوداګرو سره ژمنه وکړه، چې په راتلونکو لسو میاشتو کې به د حصارشاهي صنعتي پارک ته د ۱۵ میلیونو ډالرو په لګښت د جلال اباد ښار له غوچکو څخه د نغلو د برېښنا لین وغځوي.

د مالیې وزیر وویل، چې له خلکو سره د کابل - جلال اباد لارې د دویم سړک د جوړولو اندېښنې موجودې دي.

وزیر ژمنه وکړه، چې ورمه ورځ ورته اسیایي بانک د پیسو پیداکېدلو ډاډ ورکړي. چې دغه پروژه به په دوو کلو کې بشپړه شي.

د مالیې وزیر داهم وویل، چې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې به د امریکا هېواد په ۲۵ میلیونه ډالرو مرسته د تورخم ګمرکي تاسیسات پراخ کړي.

دغه ډول به د ننګرهار ګمرک، د حصارشاهي صنعتي پارک ته څېرمه په ۱۰۰۰ جریبه ځمکه کې اباد کړي، چې سړکال به يې ډیزاین او پلان ترسره شي.

د مالیې وزیر په کنفرانس کې وویل، چې د حصارشاهي صنعتي پارک د ۴۰ میلیونه ډالرو په لګښت تر جوړېدو لاندې دی، چې ډېر ژر به ورته د ملي سوداګرو کارخانې او فابریکې راولېږدول شي.

نومورې زیاته کړه، چې له صنعتي پارک څخه تر تورخم بندره به د ریل ګاډي پټلی د سروې او ډیزاین کار سړکال بشپړ او په ۱۳۹۰ لمریز کال کې به پرې عملي کار پیل شي.

د ننګرهار والي ګل اغا شېرزي وویل، چې په تېرو څلورو کلونو کې د ننګرهار د ګمرک عواید له یو نیم میلیارد افغانیو څخه لس میلیارد و ته لوړ شوي دي.

نومورې، د عوایدو د لوړېدو لوی لامل د دغه ولایت په مستوفیت او ګمرک کې د چارو بنه سمون او اسیکودا سیستم رامنځته کول، وبلل.

د افغانستان د سوداګرۍ خونې مرستیال خانجان الکوزي وویل، چې له خپلې دوه ورځنۍ کنفرانس کې به د څېړنو ولایتونو ۱۵۰ ملي سوداګر له نورو پوړو چارواکو سره خپلې ستونزې او نظریات شریک کړي.

نومورې وویل، چې د دغه ډول کنفرانسونو جوړول بې اغېزې نه دي.

د نومورې په وینا، د دې له نظره د فساد بنسټیز لاملونه او د سوداګرو سره مرستې یو سر بله سره جلا دي.

الکوزي، مالیه د ولس حق وبلله او سوداګریې مکلف وګڼل، چې مالیه ورکړي.

خو نومورې وویل، چې د مالیې په اندازه دولت عامه خدمات نه دي وړاندې کړي.

د سوداګرۍ خونې مرستیال وویل، چې له سوداګرو څخه اوس هم دوولس سلنه غیر قانوني تیکسونه د ښارونو جوړولو او ښارواليو په نامه اخیستل کېږي.

نومورې زیاته کړه، چې د عامې روغتیا او ترانسپورټ وزارتونو پېچلو سیستمونو يې سوداګریزې چارې تکنې کړې دي.

خانجان الکوزي وویل: «ولسمشر هم خبر دی، چې له تورخمه تر کابله په امنیتي پوستو کې زموږ له سوداګرو پیسې اخیستل کېږي.»

د الکوزي په خبره، سوداګر هېڅکله تاوان نه کوي، که حکومتي چارواکي رشوت واخلي او یا د سوداګر مال وځنډېږي، نو د تاوان زوریې له ولس څخه وځي.

د هغه په وینا، د هېواد سوداګر عنعنوي سوداګري کوي، کمپیوټرایز او انټرنېټ سیستم نه لري، ځومره چې قوانین مودرن کېږي، دومره يې سوداګري، ته ستونزې جوړوي.

د پڑواک د رپوټ له مخې، د مالیې وزیر ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال ډاډ ورکړ، چې ډېر ژر به د ننګرهار په ګمرک او یا تورخم بندر کې د غذایي توکیو د کیفیت معلومولو لابراتوار جوړ کړي.

نومورې وویل، چې په درېیو میاشتو کې به له پاکستان سره تراټیتي ستونزې هوارې کړي هغه زیاته کړه، چې د فساد مقابله باید په اداره کې دننه وشي.

دده د معلوماتو پربنسټ، په تېرو یوه کال کې ۱۵۰ مامورین د درغلیو له املې له دندو ګوښه شوي دي.

اساسي قانون او د ښوونې او روزنې وضعیت

څېړنوال عبدالرحیم بختانی خدمتګار

د افغانستان اسلامی جمهوریت اساسي قانون د اساسي قانون په لویه جرګه کې چې د ۱۳۸۳ هجري لمریز کال د قوس د ۲۲ مې نېټې څخه د جدی تر ۱۴ مې نېټې پورې دوام وکړ، د ملت د استازو له خوا د رایو په اتفاق تصویب او د ۱۳۸۳ هجري لمریزکال د دلوې پر ۶ مه نېټه د جمهوررییس له خوا توشیح اونافذ شو. له همدې تاریخ نه وروسته دغه اساسي قانون باید افغانستان په ټولوبرخوکې عملي شي. چې د دې اساسي قانون ځینې مادې له عمل کې پلې شوې دي او ځینې مادې تر اوسه پورې عملي شوې نه دي. په دې لنده لیکنه کې پر هغو مادو باندې چې د ښوونې اوروزنې په بر خه کې دي، لږه رڼا واچوله شي چې تراوسه پورې عملي شوې نه دي د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د دویم فصل په درې څلو ښځتمه ماده کې داسې راغلي: زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تردرجې پورې وړیا د دولت له خوا تامینېږی. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاموله او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزمن پروګرام طرح اوتطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغوسیموکې چې پرې خبرې کېږي لار هواره کړي. د اساسي قانون له مخې زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې دغه حق د قانون له مخې باید دولت خپلو اتباعو ته ورکړي. که مور د افغانستان د ښوونې اوروزنې اوسني پروګرامونه په ژوره توګه مطالعه کړو، د افغانستان خلکو دغه حقوق په پوره ډول نه دی ترلاسه کړی. فرضاً د ښوونې او روزنې پروګرامونه که یوازې د افغانستان په مرکز یانې کابل ښار کې مطالعه کړو، زیاتره پروګرامونه، فورمولتي اوننداریز دي، په ارقامواواعدادو باندې اتکا لري، مګر اصلي هدف چې د ښوونې اوروزنې لاسته راوړل دي، هغه په صفرکې ضرب دی. مثلاً ډېر زده کوونکي پیدا کېږی چې له دوولسم نه فارغېږي، مګر سواد نه لري. د افغانستان ډېر ښوونځي پر کمیت باندې ولاړ دي، په ټولو برخوکې کمیت شته، مګر کیفیت او سویه خپلې اخري درجې ته رسېدلې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې تر کمیت باید کیفت ته ډېره جدي پاملرنه وشي. د افغانستان په مرکز او ځینو نورو لایتونوکې خو نالوستي بکلوریا زده کوونکي فارغېږي، مګر په ځینو ولایتونو او ولسوالیوکې تراوسه نه ښوونځي شته او نه ښوونکي او نه د ښوونې او روزنې لپاره شرایط مساعد دي.

د اساسي قانون د درې څلو ښځتمې مادې په بله برخه کې داسې راغلي دي: دولت مکلف دی، چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاموله او د منځنیواجباري زده کړوتامین لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح اوتطبیق کړي د اساسي قانون له مخې د دولت دغه مکلفیت چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف عاموله د پروګرام طرح اوتطبیق دی، تر اوسه پورې په ولسوالیو او ولایتونو کې څه چې په مرکز، یانې کابل ښارکې هم محسوس شوی نه دی.

په رښتیاسره په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د پروګرام طرح او تطبیق اسان کارنه دی. دولت نه شي کولای چې په ټول افغانستان کې له یو وخت او زمان دغه کار سره کړي. خو دومره کولای شي، چې په هغو ځایونوکې چې دې کارلپاره شرایط برابر دي. باید ترسره کړي اوپه تدریجي توګه وړاندې لاړشي، دولت ته لازم دي چې په لومړي ګام کې د ښوونکو تعلیمي او تحصیلي درجې ته جدي پاملرنه وکړي او هغه ښوونکي چې تعلیمي اوتحصیلي درجه یې ټیټه ده، ورته جدي پاملرنه وشي او په دویم ګام کې د ښوونکو اقتصادي اومعشیتي مشکلاتو ته هم باید پاملرنه وشي. څو چې په هېواد کې د ښوونکو تحصیلي او تعلیمی سویه او درجه اوچته شي او که یو ښوونکی د ښوونې ټول شرایط پوره نه کړي، د ښوونې اوروزنې سویه به همدغسې ټیټه پاتې شي او بې سواده بکلوریا پاسان به فارغ شي. د اساسي قانون له مخې دا ټول د دولت مکلیفیتونه دي، چې باید تر سره یې کړی او د افغانستان د هغو ټولو هېوادوالو حقوق اوامتیازات چې اساسي قانون ورته ورکړي دي، په لاس ورکړل شي. د اساسي قانون په څنګ کې ځینې نور فرعي قوانین هم شته، چې د ټولنې د چارو د تنظیم لپاره راځي. په افغانستان کې نورفرعي قوانین تر کارلاندې دي، چې دغه فرعي قوانین باید ژرترژره فیصله او نافذ شي، په دغو فرعي قوانینو کې یوهم د ښوونې اوروزنې قانون دی. که دغه قانون ژرفیصله اونافذشي، د ښوونې او روزنې په برخه کې دغه پورتنی ستونزې یو څه حل کېږي. د ښونې او روزنې د کیفیت د اوچتولو لپاره یوه بله لار د خصوصي او شخصي ښوونځیو پرانستل دي، چې د دغه کارلپاره باید قوانین اولایحې وضع شي او د هغو قوانینو اولوایحو په رڼا کې خصوصي ښونځیو ته وده اوپراختیاورکړل شي. باید دولت د ملګرو ملتونو او نورو مرسته کوونکو هېوادونو له خوا خصوصي ښونځیو ته چې پرانستل کېږي، د فعالیت زمینه برابره کړي.

دړې زره افغان پولیس افسران د روزنې لپاره بهرته لېږل کېږي

افغان او امریکایي چارواکو د افغانستان په پولیسو کې د لویو تغییراتو پلان جوړ کړی دی. د دې بدلون هدف دا دی، چې افغان پولیس له فساده پاک شي او د خلکو اعتماد پرې پیدا شي. په افغانستان کې د پولیسو په لیکو کې د اصلاحاتو او ښه والي د راوستلو د پروګرام پلي کېدولپاره یو شمېر پولیس افسران د زده کړو لپاره له هېواده د باندې واستول شي.

د افغانستان له جګړې اته کاله وروسته جګپوړي افغان او امریکایي مقامات وایي، چې دوی اوس غواړي په دې برخه کې بیا له صفره شروع وکړي. ډګرجنرال ویلیم کالدویل، چې په افغانستان کې د ناټو د تعلیمي چارو مسوول دی، وایي چې دوی تراوسه پورې په دې برخه کې سم اقدام نه و کړی. د دې په وینا وظیفې ته د پولیسو تر استولو مخکې د دوی ترټولو مهم ګام د افرادو تعلیم او استخدام دی، چې تر اوسه دې چارې ته سمه پاملرنه نه وه شوې.

د امریکایي چارواکو په وینا د افغانستان د ملي اردو برعکس چې د افغانانو له لوري له احترامه برخمن دي، د پولیسو په منځ کې رشوت خوري، غلا، بد سلوکي، د مخدرو موادو استعمال او له طالبانو سره د دوی یوځای کېدل زیات لیدل کېږي. د امریکا په نوې ستراتیژۍ کې د افغانستان پولیس د خطر د یوې منبع په توګه حساس ګڼل کېږي.

د جنرال کالدویل په وینا که په افغانستان کې پولیس اصلاح نه شي، د افغانستان په امنیتي حالاتو کې بدلون ممکن نه دی.

د تاند وېښې د رپوټ له مخې، د افغانستان د کورنیو چارو وزیر محمدحنیف اتمر وایي، چې د افغان پولیسو د کیفیت د ښه کېدو لپاره یو مهم ګام دا دی، چې د پولیسو افسران د زده کړو او روزنې لپاره له هېواده دباندې واستول شي.

ښاغلی اتمر وایي چې کابو دریې زره پولیس افسران به د نهو میاشتنیو زده کړو لپاره ترکیې او اردن ته ولېږي، چې له راستنېدو وروسته به په ولایتونو او ولسوالیو کې د امنیه قومندانانو په حیث وګومارل شي، څو د بې تجربه او غیرمسلکي قوماندانانو خلا ډکه کړي. د هغه په وینا پر دې سربېره دا کسان کولای شي د بهرنیو روزونکو په ځای نور پولیس وروزي.

قابل توجه علاقمندان روزنامهٔ اراده

روزنامهٔ اراده به اطلاع تمام اداره های دولتی و غیردولتی می رساند که توزیع روزنامهٔ اراده بعد از تاریخ اول حمل سال ۱۳۸۹ به طور رایگان صورت نخواهد گرفت؛ اداره ها و مراجعی که علاقمند دریافت روزنامهٔ اراده هستند، به دفتر روزنامه مراجعه نموده و وجه اشتراک پولی شان را بپردازند و با اشتراک شان در این روزنامه، در رشد، تقویهٔ و گسترش هر چه بیشتر رسانه های آزاد کشور، سهم خویش را اداء نمایند.

وجه اشتراک روزنامه قرار آتی است:

وجه اشتراک	در داخل کشور	برای موسسات،سفارتخانه هاودفترهای خارجی	برای محصلان و متعلمان
سالانه	۲۰۰۰ افغانی	۳۰۰ دالر امریکایی	۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه	۱۰۰۰ افغانی	۱۵۰ دالر امریکایی	۵۰۰ افغانی
سه ماهه	۵۰۰ افغانی	۷۰ دالر امریکایی	۲۵۰ افغانی

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com